**مطبوعاتي اعلاميه**

**د حزب التحرير - ولايه تونس د ښځو څانګې يوه پلاوي**

**د سيدي بوزيد له خلکو څخه ليدنه وکړه**

**(ژباړه)**

د سيدي بوزيد په صابالا ولسوالۍ کې د ۲۰۱۹ کال د اپرېل د ۲۷مې له پېښې وروسته د اپريل په ۲۸مه د حزب التحرير- ولايه تونس د ښځو څانګې يو پلاوی د قربانيانو له کورنيو سره د خواخوږۍ په موخه سيمې ته لاړ.

کله مو چې کورنۍ پرته له خواخوږو وليدې، ډېر حيران شوو. موږ تمه درلوده چې هلته به د خواخوږو يو کاروان وي او له کورنيو سره به په دې لوی مصيبت کې غمشريکي کوي، خو د قربانيانو له کورنيو پرته مو بل څوک ونه ليدل. يوازې د قربانيانو د کورنۍ غړي په کورونو کې ګرځېدل او يو بل ته يې تسلي ورکوله. په ټولو کورونو کې د غم ټغر خور و، چا مړي درلودل، چا زخميان او چا دواړه.

موږ له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې دوی ته لوی اجر او د زغم توفيق ورکړي.

موږ د هغو کورنيو له ښځو سره کېناستو چې د غړو شمېر يې لږ و، له دوی سره مو خبرې وکړې او تود هرکلی يې راڅخه وکړ. دوی د هغو دردونو په اړه راته وويل، چې هره ورځ يې له خپلو کورنيو سره تېروي، هغه دردونه چې تر مرګ سخت دي او ښايي مرګ يې پروړاندې ډېر اسانه وي.

موږ هڅه وکړه چې غم او درد يې درک کړو او خواخوږي ورسره وکړو. لومړني کور ته چې ورغلو (د دوی د اوسېدلو کوټې، چې د «کور» کليمه يې په اړه لويه ده) دوه نارينه پکې مړه وو او يو ورور يې به ساوسي روغتون کې ټپي پروت و. دريو وروڼو پکې د پلار له مړينې او مور له بندي کېدو وروسته د دريو نورو کوچنيو وروڼو د نفقې لپاره کار کاوه... اوس چې دوی لاړل، څوک به د دغو کوچنيو لپاره کار کوي؟

ورپسې بل کور ته ورغلو، هلته مو يوه ځورېدلې مور وليده. د خپلې بېوزلۍ حالت يې بيانولو، چې څنګه يې د مجبورۍ او سختۍ له لاسه دوې لورګانې قربانې کړې. يوه لور يې له لاسه ورکړې وه او بله يې په داسې حال کې په روغتون کې بستر وه، چې لاس يې پرې و.

په همدې کور کې مو یوه بله ښځه هم ولیده، چې د خپلې زړې مور لپاره یې - چې عمر یې له ٦٠ کلو اوښتی و- ژړل. مور یې د سیدي بوزید روغتون کې د ټپیانو په منځ کې وه او لور یې هلته د ورتلو توان نه درلود، ځکه چې کلي یې عامه ترانسپورټ نه درلود او د شخصي ترانسپورت لپاره ورسره پیسې نه وې.

وروسته یوه بل کور ته لاړو، چې خپله یوازینۍ ډوډۍ راوړونکې یې له لاسه ورکړې وه؛ یوه ۱۴ کلنه نجلۍ چې د خپلې زړې مور، خور او ورور – چې عصبي ناروغي یې لرله- یوازینۍ هیله وه. خور یې په مات زړه کیسه کوله، چې ځنګه سیمې ته لاړه او ځنګه یې هلته د خپلې خور په وینو ککړ جسد او په ځنګ کې پروت لاس ولید. د خپلې خور د جسد د وړولو پر مهال یې دغه لاس ته پام نه شو، خو اوس چې پوه شوې چې هغه لاس یې د کاکا د لور و، کومه چې په روغتون کې بستر ده، ډېره ځورېږي.

دوی موږ ته د حکومت د غفلت او بې پروایۍ په اړه وویل، چې دوی یې ځنګه یواځې پرېښودل او د یوسف الشریف له بې ځایه لیدنې په اړه زیاته کړه، چې موږ خپل ځواک وښیو، په داسې حال کې چې هېڅ وضعیت یې بدل نه کړ. پر هغو سیاستوالو او چارواکو د بې باورۍ په اړه یې راته وویل، چې د ټاکنو د نېټې له نږدې کېدو پرته دوی ته هېڅ پام نه کوي، دوی پوهېږي چې هغوی یوازې ځوکۍ غواړي.

موږ دوی ته خپل ځان د حزب التحریر د ښځینه غړو (شبات) په توګه وروپېژانده او خپله موخه مو ورته وویله. دوی له دغو ستونزو، غمونو او ناچاریو سربېره بیا هم دالله سبحانه و تعالی ستاینه کوله او ویل یې چې موږ پرته له الله سبحانه و تعالی بل څوک نه لرو.

د دغو ټولو اصلي لامل حکومت دی، چې د صابلا د خلکو – چې له دوو لویو مصیبتونو؛ بېوزلۍ او مرګ سره لاس او ګریوان دي- پر وړاندې له خپل مسئولیت نه تښتي. له دوی څخه یې یاده شوې سیمه غصب کړې او سرکونه او د خلکو لومړنیو اړتیاوو ته هېڅ پام نه کوي. ټول هغه کسان په دغه جنایت کې شریک دي، چې د دغه حکومت ملاتړ کوي او ورسره ولاړ دي. څوک چې غواړي د دغې غمیزې په اصلي لامل پوه شي، باید له نیږدې یې وګوري؛ هغه وخت به پوه شي چې واقعیت دومره ټکان ورکوونکی دی چې په کلیمو کې نه شي تشریح کېدای.

موږ د حزب التحریر- ولایه تونس د ښځو برخه له دوی څخه لیدنه یوه دنده او د مسلمانانو وضعیت ته اندېښنه یو مسولیت بولو. سمه ده چې موږ هلته لاړو، خو د دوی حق به تر هغه وخته ادا نشو کړلی، څو چې د الله سبحانه وتعالی ژمنه او د پیغمبر صلی علیه وسلم زېری چې د نبوت پر منهج د راشده خلافت بیا تاسیس دی، نه وي عملي شوی. هغه دولت چې د مسمانانو پر چارو پام کوي او دوی د اوسني دولت له بې عدالتیو، ظلمونو او ترورېزم څخه خلاصوي، هغه ظلمونه چې دوام لري او په اړه یې حتا دوی اندېښنه هم نه کوي.

**حزب التحریر- ولایه تونس د ښځو څانګه**

**۲۴مه د شعبان ۱۴۴۰هـ ق کال،**

**۳۰مه د اپریل سه شنبه، ۲۰۱۹م کال،**

**ګڼه: ۲۵/۱۴۴۰**